مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ژباړه ، محمدابراهیم سپېڅلی

۲۰۲۶/۱۰/۲۳

# د ویر نغاره

په خوراک پسې لالهاند مېږي ته، یوې غالبوز/غومبسي نېښ ور ولګوی مېږی مړ نه سو، خو زهرو یې بدن کمزوری کړ.

په ډېر تکلیف یې ځان خپل غار ته ورسوی او په یو کونج کې پرېوتی.

هغه مهال، چې د مېږیانو پاچا " مندوښا" خبر سو، کابینه یې راوغوښتله او په پاچاهۍ کې د ناروغی د خپرېدو له وېرې یې ناروغ مېږی په یو ړغ له سوړې وشړی.

مېږی د خوندي ځای او خوراک په هیله لیري ولاړ، خو ژوند ورسره یاري ونه کړه.

له څو ورځو وروسته، چې " مندوښا" او نور ښاریان خبر سول، نو ټولو یې د کفن او ښخولو په موخه اورېده مزلونه ووهل.

ستړي مېږیانو د شړلي ملګري پر جسد، ښخولو او قبر ډېري اوښکي توی او څلوېښت ورځې یې د ویر نغاره وډنګوله

۲۱ اکتوبر ۲۰۲٦
المان، زیګبورګ



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولـئ